امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۲۵جوزا الی ۳۱-۱۴۰۴

شماره یکصدو یازدهم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د هلمند ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست څخه ليدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، د هېواد يو شمېر ولايتونو ته د دې ادارې د ولايتي رياستونو د اداري چارو د سمون په موخه د خپل سفر په ترڅ کې هلمند ولايت ته ولاړ او د ياد ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست څخه ليدنه او د هغوی د کاري بهير څخه يې څارنه وکړه. محترم ترابي صاحب د ياد رياست له هر يو کارکوونکي سره په جلا جلا توګه وکتل، د هغوی ستونزې، وړانديزونه او مشورې يې واورېدې او ټول کارکوونکي يې پر وخت او اغېزناکه خدمتونو وړاندې کولو ته وهڅول...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډافا ماين پاکۍ موسسې تر منځ د ۳۷۸,۲۰۶ (درې سوه اته اويا زره او دوه سوه شپږ) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئيس او سرپرست، الحاج مولوي محمد علم عالميار د افغانستان د ماين پاکۍ موسسې (ډافا) له رئيس محترم الحاج عبدالوحيد نوري سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم نامه يې ورسره لاسليک کړه...

ادامه در صفحه۳

## آتش سوزی در بازار لیلامی فروشی کمپنی شهر کابل مهار شد



در بازار لیلامی فروشی واقع در کمپنی شهر کابل آتش‌سوزی نسبتا بزرگ به وقوع پیوست که بر اثر تلاش‌های تیم ریاست عمومی رسیدگی به حوادث و اطفایه وزارت امور داخله پس از مدتی مهار شد...

ادامه در صفحه۴

## سفر سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به ولایات شمال و شرق کشور به جهت بررسی امور اداری و ارایه خدمات در ریاست های ولایتی این اداره و هماهنگی با مقامات ولایات در زمینه مدیریت حوادث



در جریان این سفرها، محترم ترابی صاحب از ریاست‌های ولایتی اداره در ولایات، بلخ، سمنگان، بغلان و کندز دیدار نموده و روند کاری این ریاست‌ها را از نزدیک مورد بررسی قرار داد...

ادامه در صفحه آخر

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د هېواد یو شمېر ولایتونو ته د دې ادارې د ولایتي ریاستونو د اداري چارو د سمون په موخه د خپل سفر په ترڅ کې هلمند ولایت ته ولاړ او د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او د هغوی د کاري بهیر څخه يې څارنه وکړه.

محترم ترابي صاحب د یاد ریاست له هر یو کارکوونکي سره په جلا جلا توګه وکتل، د هغوی ستونزې، وړاندیزونه او مشورې يې واورېدې او ټول کارکوونکي يې پر وخت او اغېزناکه خدمتونو وړاندې کولو ته وهڅول.

همداراز، ترابي صاحب په هلمند ولایت کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له ګدام څخه هم لیدنه وکړه او اړوندو مسؤولینو ته يې د خوراکي او غیر خوراکي توکو د ساتنې، تنظیم او ترتیب، نظم رامنځته کولو او د اړتیا پر بنسټ اړمنو خلکو ته د اړینو توکو د وېش په اړه لازمې لارښوونې وکړې. همدارنګه، ترابي صاحب ولایتي ریاستونو ته د ټولو تقنیني سندونو د رسېدو، د سند په مفهوم پوهولو، سند د اړونده رئیس تر نظر تېرولو، د سند عملي کولو او په دوسیوو کې د ټولو اسنادو له ساتنې څخه څارنه وکړه.

په همدې حال کې، ترابي صاحب د ټولو نشراتي موادو په ښه توګه د کارولو د بهیر او په یاد ولایت کې د تر کار لاندې پروژو څخه هم په هر اړخیزه توګه څارنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې څه موده مخکې، د مرکز څخه ټولو ولایتونو ته د کاري بهیر د څارنې او ارزونې لپاره هیئتونه لېږل شوي وو چې دغو هیئتونو د ولایتونو څخه ځینې نیمګړتیاوې په ګوته کړې وې او د ادارې د سرپرست لخوا له مرکز څخه ټولو ولایتونو ته په متحدالمال ډول د یو مکتوب په ذریعه د هغو نیمګړتیاوو یادونه شوې وه او ولایتي ریاستونو ته د دغو نیمګړتیاوو د پوره کولو په پار لازمې لارښوونې شوې وې او اوس مهال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د دغو نیمګړتیاوو د پوره کولو په منظور د یاد ولایت د خدمتونو وړاندې کولو له کاري بهیر څخه هر اړخیزه څېړنه وکړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست د دې سفر موخه د ولایتي کارکوونکو د نظرونو، ستونزو او وړاندیزونو ترلاسه کول، د دفترونو تنظیمول، یو منظم کاري چاپېریال رامنځته کول، د ولایت له مقام سره د بشپړې همغږۍ رامنځته کول، د اسنادو د آرشیف په ښه توګه تنظیمول، د معیاري ګدامونو جوړول ، دنیمګړتیاوو ډکول او د وقایوي پروژو پلي کول دی.

په پای کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکي له مراجعینو سره نیک چلند کولو، د کارونو پر وخت او بې له ځنډه ترسره کولو، د بیت‌المال په سمه توګه کارولو او اداري اصول رعایت کولو ته وهڅول او له هغوی يې وغوښتل چې د خلکو خدمتګاران واوسي او د هېواد د پرمختګ لپاره له خپلې مسلکي پوهې ګټه واخلي. همدارنګه نوموړي هغوی ته نقدي مرستې هم وویشلې.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډافا ماین پاکۍ موسسې تر منځ د ۳۷۸,۲۰۶ (درې سوه اته اویا زره او دوه سوه شپږ) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس او سرپرست، الحاج مولوي محمد علم عالمیار د افغانستان د ماین پاکۍ موسسې (ډافا) له رئیس محترم الحاج عبدالوحید نوري سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې محترمعالمیار صاحب ماینونه او ناچاوده توکي د خلکو پټ دښمن وبلل او د یادې موسسې له اوسنۍ پروژې چې د ماینونو او ناچاوده توکو د پاکولو په برخه کې پلي کېږي، هرکلی وکړ.

همداراز، د یادې موسسې رئیس، عبدالوحید نوري، د د دې ادارې له همکاریو خوښي وښوده او د اوسنۍ پروژې په اړه یې معلومات وړاندې کړل. نوموړي وویل، ټاکل شوې ده چې د کونړ ولایت په دوو ولسوالیو کې په ماینونو ککړې ځینې سیمې پاکې شي او خلکو ته یې د ماینونو او چاودېدونکو توکو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شي.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو لوریو تر منځ د ۳۷۸,۲۰۶ (درې سوه اته اویا زره او دوه سوه شپږ) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه. د دې تفاهم نامې له مخې به د کونړ ولایت په دره پیچ او وټه‌پور ولسوالیو کې ۴,۴۵۷,۶۲۸ (څلور میلیونه، څلور سوه اووه پنځوس زره او شپږ سوه اته ویشت) متره مربع سیمه له ماینونو او ناچاودو توکو څخه پاکه شي. همداراز، د سیمه‌ییزو خلکو لپاره به د ماینونو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره شي او د بې وزله خلکو له لارې به د کرنیزو ځمکو د پیاوړتیا لپاره د اوبو کانالونه هم پاک شي.

# آتش سوزی در بازار لیلامی فروشی کمپنی شهر کابل مهار شد



صبح امروز یک شنبه دوم عید قربان، در بازار لیلامی فروشی واقع در کمپنی شهر کابل آتش‌سوزی نسبتا بزرگ به وقوع پیوست که بر اثر تلاش‌های تیم ریاست عمومی رسیدگی به حوادث و اطفایه وزارت امور داخله پس از مدتی مهار شد.
بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نور الدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تیم حالات اضطرار این اداره به رهبری محترم قاری خوشحال زمانی، رئیس مرکز عملیات اضطرار جهت هماهنگی و انسجام امور به ساحه حادثه حضور پیدا کرده و در کنار تیم اطفایه قرار گرفتند.
بر اساس گزارش‌های ابتدایی نزدیک به صد دوکانه، غرفه و تخت‌های فروشنده‌ها آتش گرفته و تا هنوز رقم دقیق تلفات و خسارات و علت این آتش سوزی مشخص نشده است.

قابل ذکر است که کمیته دایمی جلوگیری از آتش سوزی به رهبری این اداره و عضویت وزارت‌خانه‌ها و ادارات سکتوری از چندین ماه به این سو تلاش‌های خود را برای معیاری سازی تانک‌های تیل و مارکیت‌های تجارتی در کابل جهت جلوگیری از وقوع آتش سوزی آغاز کرده و برای آنان هشدارهای را ارایه کرده و هم‌چنان چندین تانک تیل متخلف نیز در سطح این شهر مسدود شده است.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۱ اړمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۹۱ اړمنو او مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په چخانسور ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۵۰۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو غنم ووېشل شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ کورنیو ته د قربانۍ غوښه ووېشله




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامي هوساینې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت د مرکز جلال آباد ښار اړوندو سیمو کې ۲۰۰ کورنیو ته د قربانۍ غوښه ووېشله.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵ کیلو غوښه ووېشل شوه.
د یادونې وړ ده چې د دې مرستې ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه د مرستې په پار مننه او قدرداني وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث جوزجان برای ۱۵۰ خانواده گوشت قربانی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان با حمایت موسسات امداد رسان، برای ۱۵۰ خانواده از مربوطات شهر شبرغان، مرکز آن ولایت گوشت قربانی توزیع کرد.

در این روند برای هر خانواده ۵ کیلو گوشت توزیع شد.

قابل ذکر است که دریافت کننده‌گان این مساعدت از ریاست مذکور ابراز خرسندی و قدردانی نمودند.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ کورنیو ته د قربانۍ غوښه ووېشله




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د مرستندویه موسسو په ملاتړ, د دې ولایت د مرکز مزار شریف ښار او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۰۰ کورنیو ته د قربانۍ غوښه ووېشله.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵ کیلو غوښه ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده چې د دې مرستې ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه د مرستې په پار مننه او قدرداني وکړه.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۷۵ کورنیو ته د نغدي پیسو مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د PIN موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د ده سبز ولسوالۍ په هوټل ناوه، ملا نادر قلا او خواجه چست کلیو کې ۳۷۵ اړمنو او بې سرپرسته کورنیو ته، له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵,۱۲۰ افغانۍ وو بشل شوې، چې په ټوله کې د یاد شمېر کورنیو لپاره ۱,۹۲۰,۰۰۰ (۱ میلیون او ۹۲۰ زره) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳۴ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت بېلا بېلو ولسوالیو اړوند ۱۳۴مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې, ۵۰ کیلو غنم, ۲ تختې کمپلې او یو پلاستیکي سطل ووېشل شول.

## د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د اورلګېدنې او وچکالۍ له امله ۱۰ زیانمنو او بېځایه شویو کورنیو ته د یاد ولایت په مرکز نیلي ښار کې له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو غنم، ۲۵ کیلو وریجې، یو روغتیایي کېټ، د اوبو د تصفیې ۱۰ پاکټه تابلیت او یوه بسته د ماشومانو لوښي ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۳۵۵ خانواده نیازمند مساعدت نقدی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه PIN امضا شده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با حمایت مؤسسه متذکره، برای ۳۵۵ خانواده نیازمند، آسیب‌دیده و بی‌سرپرست در قریه‌های ترکو و شهرک زرغون ولسوالی ده‌سبز، کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این روند، به هر خانواده مبلغ ۵,۱۲۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ ۱,۸۱۷,۶۰۰ افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۵۰ کورنیو ته د قربانۍ غوښه ووېشله




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامي هوساینې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې, د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ, د دې ولایت په مرکز کې ۱۱۵۰ بېوزله، کډوالو او د یتیمانو کورنیو ته د قربانۍ غوښه ووېشله.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵ کیلو او ټولټال ۵,۷۵۰ کیلو غوښه یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده چې د دې مرستې ترلاسه کوونکو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د یادې موسسې څخه د مرستې په پار مننه او قدرداني وکړه.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۴۳ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د PIN موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت د ده سبز ولسوالۍ په آب درې، بندي خانې او جارو کلیو کې ۳۴۳ بېوزله، زیانمنو او بې سرپرسته کورنیو ته، له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵,۱۲۰ افغانۍ وو پشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۱,۷۵۶,۱۶۰ (۱ میلیون، ۷۵۶ زره او ۱۶۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۷ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی، برای ۷ خانواده آسیب‌دیده ناشی از خشک‌سالی در مرکز آن ولایت کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده ۱۰۰ کیلو گندم، ۲۵ کیلو برنج و یک بسته صحی توزیع گردید.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست یو ټپي شوي کس ته نغدي مرسته ووېشله




د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالي ملاتړ، یو ټپي شوي کس ته د مسؤلینو په شتون کې ۳۱,۰۰۰ (یو دېرش زره) افغانۍ نغدي مرسته ووېشله.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۸ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په یاد ولایت کې د اورلګېدنې له امله ۱۲۸ زیانمنو او بې وزله کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د اورلګېدنې له امله ۱۹ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم او د اړتیا له مخې د ۱۰۹ بې وزله کورنیو څخه ۶۰ کورنیو هرې یوې ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم او ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۳۷ کورنیو هرې یوې ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم او ۱۲ کورنیو هرې یوې ته ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲ خانواده شهید مساعدت نقدی توزیع کرد



به اساس هدایت سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با هماهنگی مقام ولایت، برای ۲ خانواده شهید که در نتیجه حوادث طبیعی و غیرطبیعی جان باخته‌اند، پس از سروی، کمک نقدی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده مبلغ ۲۰،۰۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع ۴۰،۰۰۰ (چهل‌هزار) افغانی اختصاص یافته بود.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۵ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په وروستیو کې یاد ولایت ته له پاکستان څخه په اجباري توګه ۱۶۵ راستنېدونکو کورنیو ته د هغوی د ملاتړ په موخه، د ټاکل شوې څلور اړخیزې کمېټې له خوا تر کره سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د دې ولایت په مرکز قلات ښار کې ۱۶۵ کورنیو، هرې یوې ته یوه بوری ۵۰ کیلویي غنم او یوه بوری ۲۵ کیلویي وریجې ووېشل شوې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ بېوزله کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د افغانستان د بیا ودانولو او طبی مرستو موسسې (DARMAN) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د بېلا بېلو ولسوالیو او مرکز جلال آباد ښار اړوند ۲۰۰ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۲۰ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۲.۵ کیلو لوبیا، ۲.۱ کیلو چای او ۲ کیلو بوره ووېشل شوه.
ورته مهال، د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې مؤسسې څخه مننه او قدردانی وکړه او په راتلونکی کې یې د نورو مرستو غوښتنه هم وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان برای ۷۲ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و بنیاد آغا خان برای اسکان و با حمایت سازمان‌های IOM و یونیسف، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان برای ۷۲ خانواده آسیب‌دیده از اثر بارندگی‌ها و سیلاب‌ها در قریه باشند ولسوالی وردوج آن ولایت، پس از انجام سروی، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.
در این روند، با حضور مسئولین، از سوی سازمان IOM به هر خانواده یک بسته وسایل آشپزخانه، یک بسته لوازم زمستانی، ۳ تخته کمپل، ۴ عدد چراغ، ۴ تخته ترپال و برای ۶۸ خانواده یک باب خیمه نیز توزیع شد. همچنین، از سوی بنیاد آغا خان برای هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۱۸ لیتر روغن، ۲۵ کیلو دال نخود، ۲ کیلو بیسکویت، ۲ کیلو نمک و از طرف سازمان یونیسف نیز یک بسته حفظ الصحه برای هر خانواده توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی کار ساخت دو پایه پلچک را در ولسوالی پاتو آغاز کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی، کار ساخت دو پایه پلچک در قریه‌های فتحزی و وگیر ولسوالی پاتو را طی مراسمی با حضور معاون مقام ولایت دایکندی، رؤسای ادارات محلی، بزرگان محل و رسانه‌ها آغاز کرد.

محترم حاجی مولوی احسان‌الله رحمتیار، معاون مقام ولایت، این پروژه را گامی مهم در راستای رفاه عامه و کاهش آسیب‌پذیری خواند و تلاش‌های ریاست آمادگی مبارزه با حوادث را ستود.

محترم حاجی مولوی حبیب‌الله رهنما، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث، در مراسم افتتاح این پروژه اضطراری گفت که این پروژه مبنی بر هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله و بر اساس پلان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تطبیق می‌شود و قرار است در مدت دو ماه تکمیل گردد.

قابل ذکر است مه پلچک قریه فتحزی به طول ۵ متر و قریه وگیر به طول ۴ متر، هر دو با عرض ۳.۶ متر و ارتفاع ۲ متر اعمار می‌گردند و هزینه مجموعی پروژه بیش از یک میلیون افغانی می‌باشد.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې او د IOM او ASLO سازمانونو په ملاتړ، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په پلحصار ولسوالۍ کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۱۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د IOM سازمان له لوري هرې کورنۍ ته ۱ د پخلنځي کېټ، ۳ تختې کمپلې، ۱ عدد د سرپنا کېټ، ٤ عدده ځراغونه، ٤ تختې ترپالونه، ۱ تخته پلاستیکي فرش او ۱ پایه خېمه ووېشل شوه. همدارنګه، د ASLO سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیتره غوړي، ۲۵ کیلو دال نخود، ۲ کیلو بسکېټ، ۱ کیلو مالګه او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ له لوري هرې کورنۍ ته یو روغتیایي کېټ ووېشل شو.

# به هدف بهبود روند خدمات‌رسانی و اصلاح امور اداری ریاست‌های ولایتی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست این اداره، سفرهای رسمی‌اش را به چند ولایت کشور آغاز کرد.



در جریان این سفرها، محترم ترابی صاحب از ریاست‌های ولایتی اداره در ولایات، بلخ، سمنگان، بغلان و کندز دیدار نموده و روند کاری این ریاست‌ها را از نزدیک مورد بررسی قرار داد.

در هر یک از این ولایات، سرپرست اداره با تمامی کارمندان به‌گونه فردی دیدار کرده، مشکلات، نظریات و پیشنهادات آنان را استماع نمود و آنان را به ارائه خدمات به‌موقع، مؤثر، رعایت اصول اداری و برخورد نیک با مراجعین تشویق کرد.

وی همچنان از گدام‌های مواد خوراکی و غیرخوراکی این ریاست‌ها نیز بازدید نموده و به مسئولان مربوطه در زمینه نگهداری، تنظیم و توزیع منظم این مواد بر اساس نیازمندی‌های مردم، رهنمودهای لازم ارائه کرد.

یکی از بخش‌های مهم این سفرها، نظارت دقیق بر روند دریافت، درک، بررسی و تطبیق اسناد تقنینی از مرکز به ریاست‌های ولایتی بود. محترم ترابی صاحب بر حفظ درست این اسناد در دوسیه‌ها و بررسی آن توسط روسای مربوطه تأکید نمود.

در کنار این موارد، نحوه استفاده از مواد نشراتی و چگونگی تطبیق پروژه‌های وقایوی و انکشافی نیز به‌گونه همه‌جانبه ارزیابی گردید.

در ولایت بلخ، محترم ترابی صاحب با مولوی نورالهدا ابو ادریس، معاون مقام ولایت دیدار کرد و پیرامون مدیریت بهتر حوادث و اجرای پروژه‌های وقایوی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

سرپرست اداره همچنان ملاقات‌های مشابه با محترم مولوی داد خدا خادم معاون مقام ولایت سمنگان و در ولایت بغلان، با محترم مولوی عبدالرحمن حقانی، والی آن ولایت، دیدار نمود و روی همکاری‌ها جهت بهبود ارایه خدمات در بخش مدیریت حوادث صحبت کردند.

در ولایت سمنگان، سرپرست اداره همراه با معاون مقام ولایت، از جریان ساخت تعمیر جدید ریاست ولایتی دیدار کرد. این تعمیر با هزینه ۱۳ میلیون افغانی در حال ساخت بوده و تا اکنون ۵۰ درصد پیشرفت داشته است. همچنان، وی از یک پروژه انکشافی دیگر که به ارزش یک میلیون افغانی تصویب شده نیز بازدید نموده و بر تطبیق شفاف و معیاری آن تأکید کرد.

در ولایت کندز نیز، بررسی همه‌جانبه از عملکرد اداره ولایتی انجام شد و سرپرست اداره، نحوه تطبیق رهنمودهای قبلی و اصلاح نواقص شناسایی‌شده توسط هیئت‌های مرکز را از نزدیک بررسی نمود.

هدف کلی این سفرها، دریافت مستقیم نظریات کارمندان، تنظیم دفاتر، ایجاد فضای کاری منظم، هماهنگی با مقامات ولایتی، تنظیم آرشیف اسناد، ساخت گدام‌های معیاری، رفع کمبودها و تطبیق پروژه‌های وقایوی عنوان شده است.

در پایان هر سفر، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، ضمن تشویق کارمندان به انجام درست وظایف، به آنان کمک‌های نقدی نیز توزیع نمود و از تمامی کارمندان خواست تا به‌عنوان خدمتگزاران واقعی مردم، از دانش و تخصص خود در راستای رشد و پیشرفت کشور استفاده نمایند.

## عامه پیغامونه:

5. تیز رفتاري د مرگ سبب گرځي.
6. پر یخ شوي سړک باندې په ډېر احتیاط  تگ کوئ.
7. د باران او واورې اورېدو په وخت کې په ډېر احتیاط تگ کوئ.
8. د موټر چلولو په وخت کې د ترافیکي اصولو په پام کې نه نیول ډېر خطرونه رامنځته  کوي.